پامیر زیارمل ۲۰۱۶/۰۲/۲۲

د ډونالډ ټرامپ د اوڅارتوب او بریالیتوب عوامل

په یووېشتمه پېړۍ کې، کله چې ټوله نړۍ لکه یو کلی داسې دی، د مځکې ټول هېوادونه او ولسونه یو له بل سره کلک تړي او ټولې پولې ورکې شوې دي. هغې پېښې، چې پخوا یې یوازې د یوې سیمې، هېواد او یوې لویې وچې لپاره ارزښت درلود، نن د ټولې نړۍ پر ګوټ ګوټ ژوره اغېزه کوي. دوې لسیزې وړاندې چا د دې وړاندوینه نه شوه کولای، چې د جګړه ځپلي افغانستان په لېرې پرتو سیمو کې به وګړي د امریکا سیاسي ژوند ته دومره ډېره پاملرنه کوي او په داسې ځېرکتیا به یې څېړي، خو اوس دا یو ټولمنلی حقیقت دی. د بېلګې په توګه، په نننې پېړۍ کې د هلمند په هټیو کې د ع او غ د کاواکه او بې واکه حکومت د کړنو تر څنګ د امریکا ولسمشریزې ټولټاکنې هم سپړل کېږي. په افغانستان کې خلک، د نورو هېوادونو په څېر، د امریکا په ولسمشریزو سیالیو کې د ډونالډ ټرامپ، چې په ډانګ پېیلې توګه له اسلام، مسلمانانو او کډوالو څخه کرکه کوي، هېښنده اوڅارتوب او بریالیتوب ته ګوته په غاښ پاتې دي. د ټرامپ د نه اټکلېدونکو لاسته راوړنو تر ټولو ستر عوامل زما په اند دا دي:

یوم: کډوالي

که څه هم، چې د ۱۷۷۶-م زېږدې کال د جولای میاستې په ۴-مه نېټه د امریکایي دولت بنسټ کډوالو کښېښاوه، خو اوسمهال په امریکایي ټولنه کې ډېری مشران و کشران، ښځینه و نارینه، بډایان و خواران له کډوالو څخه کرکه کوي او له واکمنو څخه په کلکه غواړي، چې د دوی شمېر لږ کړي او د ناقانونو کډوالو د راتګ مخنیوی وکړي.
د احصائې له مخې، له ۱۹۶۵-م زېږدې کال څخه تر نن ورځ پورې امریکا ته ۵۹ میلیونه کډوال راغلي دي. ۴۰ کاله مخکې د سپین پوستو وګړو سلنه ۸۴ وه، خو د Pew Research منځې د معلوماتو له مخې، اوس دغه سلنه ۶۲ ته راکښته شوې ده. د څېړونکو په اند، ۲۰۵۵ کال ته به د سپین پوستو وګړو سلنه پینځوسو ته ورسېږي او په ۲۰۶۵-م زېږدې کال کې به د امریکا یوازې ۴۶ سلنه سپین پوستې وي.
نامتو امریکایي څېړونکی پول تېلور په خپل «نوې راتلونکې امریکا» نومې کتاب کې لیکي: «که څه هم، چې د ځینو وګړو شوې بدلونونه خوښېږي، خو بوډا رایه اچوونکې هغه هېواد نه پېژني، په کوم کې چې دوی لوی شوي دي».
زما په اند د ډونالډ ټرامپ په شونې بریا کې به زوړ پښت اساسي رول ولوبوي، ځکه چې دوی نور دا نه شي زغملای او منلای، چې کډوال د امریکا د ژوند په بېلابېلو ډګرو کې ورځ تر ورځې ډېره برخه اخلي. ځینې شناند ډونالډ ټرامپ د امریکایي ټولنې د هغې برخې ږغ ګڼي، چې د پخوانۍ، بې کډوالو امریکا پلوې کوي.

دوهم: اسلامفوبیا

نننۍ امریکایي ټولنه په اسلامفوبیا (بې بنسټه له اسلام څخه ډارېدنه) ککړه ده او ټول مسلمانان تروریستان او وروسته پاتې خلک ګڼي، ځکه چې د دوی په څېر په اخلاقي فساد اخته نه دي. ډونالډ ټرامپ د امریکایانو په ذهنیت ښه پوهېږي، نو ځکه په پر له پسې توګه د اسلام او مسلمانانو سپکاوی کوي.
له بلې خوا، که څه هم چې امریکا په نړۍ کې تر ټولو پرمختللی هېواد دی، خو ډېری وګړي یې ډېر ناپوه دي او د زده کړې کچه یې ډېره ټیټه ده. د Fox News اندېوښتنې ښکاره کړه، چې ۱۸ سلنه امریکایان ولسمشر بارک اوباما مسلمان ګڼي. زما په اند، د دوی یوه برخه د ډونالډ ټرامپ غوندې د اسلامفوب سیاستوال ملاتړ له اوباما څخه د غچ په توګه کوي.

درېیم: وټه

په وروستیو پینځلسو کالو کې د امریکایانو په عاید کې پاموړ ډېرلوالی نه دی راغلی او دا د دوی لپاره د منلو وړ نه ده. وتلی وټېوه ویلیام ګالستون داسې لیکي: «په وروستیو ۱۵ کالو کې د امریکا وټې و نه کړای شول، چې د کارګر او منځنې پاړکیو په ژوند کې پاموړ ښه والی راولي او دا په ټولنه کې د ناخوښۍ اصلي علت دی».

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که څه هم، چې د امریکا وټه له رکود څخه وتلې، تولیدات ډېر شوي او وزګاري په ۲۰۰۹-م کال کې له ٪۱۰ په ۲۰۱۴-م کې تر ٪۵ لږه شوې ده، خو بیا هم امریکایان غواړي، چې د بډایانو او بې وزلو تر منځ ورځ په ورځ ډېرېدونکی واټن لږ شي او په ټولنه کې نیاو وي. ډونالډ ټرامپ په دې برخه کې هم ډېرې ژمنې کړې دي، چې دا به هم د ده د بریا چانس ډېر کړي.

څلرم: بې اعتباري

د Pew Research د اندپوښتنې له مخې، د دې پوښتنې په ځواب کې، چې تاسې پر حکومت اعتبار کوئ که نه، ٪۸۹ جمهوریتپالو او ٪۷۲ دېموکراتانو ویلې دي «کله کله» او «هیڅکله». د Gallup آژانس احصائیه ښیي، چې د ۶۰ ٪ امریکایانو په اند، حکومت ډېر صلاحیتونه لري او هغه باید لږ شي.
د امریکا د انترپرایز انستیتوت څېړونکی کارلین بومن له ټولیزو رسنیو سره د مرکې په ترڅ کې وویل، چې د ډونالډ ټرامپ د شهرت یو علت دا دی، چې امریکایان نور په واشنګټن کې پر سیاستوالو اعتبار نه کوي او دوی د هېواد په سیاسي جوړښت کې ستر بدلون او سمون غواړي.

پینځم: باندنی سیاست

امریکانانو عادت کړی و، چې وروستی څو لسیزې د دوی هېواد یوازېنی زبرځواک و او د ټولې نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ولسونو برخلیک ټاکه. خو اوس په وضع کې بنسټیز بدلون راغلی دی او امریکا د پخوا په څېر پر نړیوالو چارو ډېره اغېزه نه کوي.
په ۲۰۱۲-م زېږدي کال کې ٪۳۸ امریکایانو خپل هېواد په نړۍ تر ټولو ځواکمن ګڼه، خو په ۲۰۱۴-م کال کې دا سلنه ۲۸ کښته شوې. که څه هم چې تر اوسه د وروستیو احصایو پایلې نه دي خپرې شوې، زما په اند، په ۲۰۱۶-م کال کې دا سلنه تر دې هم ټیټه شوې ده.
ډېرې امریکایان غواړي، چې د واک واګې د داسې یوه واکمن په لاس کې وي، چې هغه په زړورتیا د پوتین او شمالي کوریا په وړاندې ودرېږي. دوی داسې انګېري، چې د اوباما اداره د دې وړتیا نه لري، چې په نړیواله صحنه کې د امریکا ملي ګټې وساتي.

دا هغه عوامل دي، چې زما په اند ډونالډ ټرامپ یې اوڅار کړی دی. خو د ډونالډ ټرامپ له ټولو برياوو سره سره باید وویل شي، چې د ولسمشریزو ټولټاکنو په وروستي پړاو کې د هغه د بریا چانس ډېر نه دی.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ